ژباړونکی:زلمی کرزی ۹ /۳/ ۲۰۱۵

ګرانوهیوادوالو،د ډاکترکاکړکتاب دخپل دمأخذو فهرست څخه ایسته کړی !

لیکوال :کاندید اکادمیسین سیستانی

[دډاکترکاکړکتاب (دپاچا امان الله واکمنی ته یوه نوی کتنه) دډاکترصاحب عبدالرحمن زمانی دعالمانه نقد اوکره کتنی وروسته ،نور دیوه تاریخی اثرپه توګه ارزښت اواعتبارنلری . اودغه کتاب دهیواد په تاریخ کی دیوه ماخذ په توګه بیله دځوان نسل دګمراهی څخه بله ګټه نلری ،دغه کتاب ما د داکترزمانی دکره کتنی د دریمی برخی په لوستلوسره دخپلوکتابونو څخه ایسته کړ،او په کثافت دانی کی می واچاوه . خدای تعالی دی د داکترزمانی پرقلم او عمرخیر اوبرکت کښیږدی چی دامان الله دسقوط دکتاب ماهیت یی د ډاکترکاکړد تاریخ د تحریف او پټوکارونوسره یوځای څرګند کړ او خلک یی دګمراهی اوجعل لوستلوڅخه وژغورل.]

دژباړونکی تذکر:

په افغان جرمن پورتال کی دمحترم کاندید اکادمیسن محمد اعظم سیستانی صاحب مقاله (ګرانوهیوادوالو دډاکترکاکړ کتاب دخپل فهرست اومأخذ څخه ایسته کړی!) ترسرلیک لاندی ما ولوستله . ډیره په زړه پوری لیکنه وه . په رښتیا هغوافغانانو ته چی په امانی دوره کی دانګلیس جاسوسی ،خیانت اوتوطیوپه باره کی معلومات نلری دهغوی دپوهاوی لپاره د دغی مقالي لوستل دیرګتوردی. په تیره بیا دښاغلی ډاکترزمانی صاحب دغه فرهنګی خدمت دقدراوستاینی وړبولم ،چی دامانی دورې تیاره پاڼه یی روښانه کړه .همدا رنګه دافغانستان په دننه اوبهرځوانانو اوراتلونکی نسل ته باید تاریخی مستند حقایق ولیکل شی ، په جعلی لیکنو باید د دوی افکارمغشوش نشی .

دشاغلی سیستانی صاحب یی کورودان چی هره ورځ خپلو هیوادوالو ته تاریخی حقایق لیکی اوهم دهیواد بی هویتو اوپردویو ګوداګیانو په مقابل کی ټینګه قلمی مبارزه کوی . دلوی خدای څخه ده ته په دغه فرهنګی خدمت کی لازیات سرلوړی اوبریالیتوب غواړم . ما دشاغلی سیستانی مقاله په پښتوژبه وژباړله ،هیلمن یم ګرانو لوستونکوته په زړه پوری وی .د ده روغتیا او سلامتیا زما هیله ده . دلوی خدای څخه ده ته د اوږد عمر دعا کوم . تل ترتله په ښه نوم پایی ښاغلی - زلمی کرزی

دمقالی دمتن ژباړه:

ډاکترکاکړد۱۹۶۰کلونو په لسیزه د تاریخ په څانګه کی یود تعلیم یافته ءواستادانو څخه دی .نوموړی یوازنی استاد دی چه دتاریخ په څانګه کی په انګلستان کی یی لوړی زده کړی سرته رسولی دی .د ادبیاتواو بشری علومو د پوهنځی زیاترو محصلینو هغه ته دیوه پوه او د تاریخ دمتخصص په سترګه کتل . اوهغه ته یی در ناوی درلود ما هم ډاکترکاکړته ښه نظردرلود اوهیلمن وم . خوهیڅکله می د تاریخ په برخه کی د ده یوه مقاله چه د تاریخ لیکلو میتودولوجی بیان کړی نه ده لوستلي .

په ۲۰۰۰میلادی کال کی دلومړی ځل لپاره می سترګی دداکترکاکړپریوه رساله (افغان ، افغانستان ،افغانها وتشکیل دولت درهندوستان ،فارس وافغانستان) ترعنوان لاندی روښانه شوی اوهغه می ترنظر تیرکړ،دغه رساله دیوه اوږد عنوان سره د محتوا له مخی یو ډیرکمزوره اثردی اوډیری نیمګرتیاوی لری .هیلمن وم چه ډاکترکاکړدافغان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوافغانستان دکلموپه باره کی د داخلی اوبهرنی معتبرو تاریخی متنونوڅخه بشپړ بیان لوستونکوته وړاندی کړی وای، له بده مرغه چی ده هڅی نه دی کړی .

په هندوستان اوفارس کی د افغانانو د دولت دجوړښت موضوع دومره لنډه ،سطحی اونیمګړی ده چی حتی ددولسم ټولګی دلکچرد نوټ لپاره هم لږ دی . دغه اثر په لومړی سرکی خطاطی شویدی ، او بیا د آفیست په ډول چاپ شویدی . زما په اند د ډاکټرکاکړ ځائ یی په تاریخ لیکلوکی ډیررا ټیټ کړی دی . دومره پوه شوم چه دی په تاریخ لیکلوکی د زغم او دحوصلی خاوند ځیرونکی نه دی ،دهیواد د تاریخی مسایلو په بیانولوکی آن دپوهاند حبیبی دشاګرد حبیب الله رفیع په اندازه هم قوی استدلال او دبیان جرئت نلری .

دډاکټرکاکړ دویم کتاب چه زما لاس ته راغی (دپاچا امان الله واکمنی ته یوه نوی کتنه) وؤ ،دومره وخت می پیدا نکړچی هغه ترپایه ولولم خو د امانی دولت پرضد دشینوارودښورښت برخه او په هغه کی یی دمحمدولی خان دروازی اوغلام صدیق خان چرخی اونور دمنشی علی احمد خان له قوله لمسونکي بلل شویدی ولوستل .حتی په یوه مقاله کی یی (آیا محمدولی خان دروازی درسقوط دولت امانی نقش داشت؟) په هغه لاس وند اونقل قول می خپلی مقالی ته اعتبار ورکړ . له هغه وخت ۲۰۰۵څخه چی ما د ډاکټرکاکړدکتاب دغه برخه ولوستله ،زما ذهنیت محمد ولی خان دروازی او غلام صدیق خان ځرخی ته ډیرخراب سو. په رښتیا سره زما په زړه کی ددغوکسانو په مقابل کی د نفرت او کرکی احساس پیدا سو، خو وروسته د کاکړپرکتاب باندی دښاغلی ډاکټرزمانی دمستند اومستدل عالمانه نقد په لوستلوسره جوته سوه چی دکتاب اصلی لیکوال علی احمد خان غزنی چی نه دی ، بلکی شیخ علی محبوب په کابل کی دانګلیس دجاسوسانو څخه دی . ډاکټرکاکړ په پوهاوی سره دانګلیس دجاسوس لیکنه لوستونکوته وړاندی کړی ده . دډاکټرزمانی دکره کتنی له مخی ځرګندیږی چی دکتاب متن (دپاچا امان الله واکمنی ته یوه نوی کتنه) سل په سل کی دانګلیس په ګټه اود دوهمی مشروطی دغورځنګ او دهیواد دخپلواکی دمحصل پاچا امان الله پرضد دی . کوم شی چی زه ډیرخواشنی کړم دادی چی ولی زمونږ دهیواد د تاریخ په حق کی د داسی سړی له خوا چی هغه د تاریخ ډاکټردی او زیات کلونه د کابل په پوهنتون کی د تاریخ دمقام خاوند وؤ ، داسی خیانت وکړ او داسی شیان یی دهیواد د تاریخ مینه والو او شاګردانو ته وړاندی کړل چی د ډاکټرزمانی دمقالی په اساس د تاریخ تحریف شمیرل کیږی نه دتاریخ حقیقت .

البته که ډاکټرکاکړد(امان الله خان سقوط) کتاب چی منشی علی احمدخان ته یی نسبت ورکړی دی نقد یی پرلیکلی وای او دهغه ماهیت یی ځرګندکړی وای، طبعاً د کتاب اعتبارکم کیدی او لوستونکی پوهیدل چی په دغه کتاب کی استعماری نیتونه پټ دي، طبعیی وه چی لوستونکو دکتاب متن اومحتوا ته اعتبارنه ورکاوه. خوله بده مرغه ډاکټرکاکړپه رښتیاه سره یو جعلی تاریخ، لوستونکو ته وړاندی کړ. ده باید دغه کارنه وای کړی . زه خپلی خبری دهغو دو ضد استعماری شخصیتونو په باره کی چی ما کړی دي بیرته اخلم، او د دغه کار پښیمانی او ندامت د ډاکټر کاکړ مخ ته ایږدم، ځکه که ډاکټرکاکړدانګلیس جاسوس لیکنه دپاچا امان الله دمنشی په نامه پخپل کتاب کی نه وای لیکلای،ښایی ډیروانسانانولکه زما په شان ډوکه اوفریب نه وای خوړلای .

د داکترصاحب زمانی نقد نه یوازی دانګلیس د وران کاریو ونډه د امانی دولت دښورښتونو په را پارولوکی ښکاره کوی ،بلکه دا ځرګندوی چی په افغانستان کی دانګلیس د جاسوسانو د فتنی اچولو تبلیغات د تاریخی حقایقو پرځای خلکو او نوی نسلونوته دهغو کسانو له خوا ورکول کیږی چی له بده مرغه دخپل نوم په سرکی ډاکټری لقبونه لری. منظورجناب ډاکټرکاکړ دی، چی دوی سربیره ددغه ټکی په پوهاوی سره چه دامان الله خان دسقوط کتاب په کابل کی دانګلیس یوجاسوس لیکلی دی او د یوه بل اجنټ په واسطه ژباړه سوی دی اوهغه یی په کندهارکی دامان الله خان دآخری ورځو د منشی علی احمد په نامه ثبت کړی دی، ځودا جوته کړی هغه روایتونه اوخبرونه چی دکابل دشمال اوشینوارو دښورښتونو په باره کی ورکړل شویدی ، دپاچا امان الله له نږدی کسانو له خوا ورکړه شویدی، ځو دلوستونکو باور په درج شوی روایتونو سره را جلب کړی . په دغو روایتونوکی دعلی احمدخان له خولی څخه ویل شوی دی چی دشینوارو ښورښت دغلام صدیق خان چرخی (دامانی دولت دبهرنیو چاروزیر اودامان الله خان باجه) او دجمهوریت دګوند په تړاو چی محمدولی خان یی مشرو، له خوا ترسره شوی دی .

پوښتنه داده چی ولی ډاکټرکاکړدکتاب اصلی لیکوال چی په کابل کی د انګلیس دمامورینو څخه و دکتاب لوستونکو ته ندی ورپیژندلی . اودهغه لیکنی یی د څه اطلاعاتو په ډول لیکلی دی؟ د دغه کار څخه د ده هدف څه شی وو؟ آیا دغه کاردتاریخ تحریف اوجعل ندی ؟ آیا هغه دغه کار ده په خپلونورو کتابوکی هم تطبیق کړی ندی ؟

ولی ډاکټرکاکړکله چی ډاکټرزمانی پردغه اثرشک پیدا کړ اواصلی متن یی دده څخه وغوښت څوهغه وګوري ،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه اثریومحترم هیوادوال ته یی ورښکاره نکړ؟که ډاکټرکاکړد دی کتاب دلیکلو څخه سوؤ نیت نه درلودای ولی هغه لیکنه دمخه تردی چی موضوع رسوایی ته راووزی دده په اختیارکی یی ورنکړه ؟

دډاکټرعبدالرحمن زمانی د تحلیل اونقد په دریمه برخه کی څوټکو زما پام راواړاوه .اړینه یی بولم چی پرهغه لړڅه تم شم. د زمانی په نقد کی دکاکړله قوله ویل کیږی : «ما تراوسه داسی لاسوند(سند) ندی لیدلی چی ښکاره کړی چی انګریزان پاچا امان الله خان دسقوط په توطیه کی لاس ولری .»

په دغه باره کی باید دجناب ډاکټرڅخه پوښتنه وشي چی آیا انتظار لری د برتانوی هند دآرشیف اسناد اومدارک اویا دلندن دموزیم آرشیفونه پخپله حرکت وکړی ، او د۸۰ او۹۰ کلونو ګرزاوخاوری له خپله ځانه لیری کړی، تاسوعالیجناب ته راسی او ووایی چی هو،مونږ دانګلیس دتوطیو پټ اسناد یو، چی ستاسو حضورته مشرف سوی یو، مونږ وګورئ . داکټرکاکړڅوځله په خصوصی مجلسونوکی خپلودوستانوته ویلی دي چی ما دبرتانوی هند ټول آرشیفونه لیدلی دی ترڅو د امانی دولت پرضد دانګریزانو دتوطیو اسناد لاس ته راوړم ،خو دی داسنادو په کشف بریالی سوی نه دی .

خو زه وایم چه ډاکترکاکړ پخپله ادعا کی صادق او رښتونی ندی، اورښتیا نه وایی. د دی لپاره زه یو ژوندی شاهد اورښتیاویونکی پیژنم ،چی د کاکړ ادعا غلطه ثابتوی. دکابل پوهنتون پخوانی استاد داکټرخالق رشید چی دحامدکرزی دحاکمیت په کلونوکی په نوی ډهلی کی ،دجواهرلعل نهروپه پوهنتون کی استاد و، هغه د افغانستان دتاریخ سره ډیره مینه لری او دافغانستان د۱۹ او ۲۰ پیړیو د نوی ډهلی دموزیم تخمین سل زره آرشیفی اسناد د ورکیدلو څخه ژغورلی دي . په تیر دسمبرکی یی ما ته په تلفن کی وویل :چی شاغلی کاکړ دهند دملی موزیم دآرشیف یوازی او یوازی اته سندونه لوستلی دی اوپه آخرکی یی لاسلیک کړی دي ، نهم سندی ی لا ندی لوستلی،که نوموړی داکترنهم لوستلی سند راښکاره کړ، او زما ادعا غلطه ثابته کړه، زه حاضریم دټولوافغانی عالمانواوپوهانو په مخ کی خپله دوکتورا دیپلوم څیری کړم اودهغه څخه بخښنه وغواړم ،دی باید دا ونه وایی چی دبرتانوی هند ټول آرشیفونه می لیدلی دی ، کوم سند می پیدا نکړچی دامانی دولت پرضد د انګلیس توطیه ښکاره کړی. دغه یوه بی معنا اودحقیقت څخه لیری ادعا ده .

زه د استاد خالق رشید په خبرو بشپړ باورلرم . داکترخالق رشید یو رښتیا ویونکی اووطن پال انسان دی . هغه په تیر دسمبرکی دیوی څیړنیزی مقالی په ترڅ کی د(بابا جان) افغانی میرمنی په باره کی چی دخپل عصرد روحانیت پاچا وه ،وویل :دهند دملی موزیم آرشیف دشلوزرونه زیات اسناد چی دافغانستان سیاسی پیښی بیانوی فوتوکاپی کړل او له ځانه سره می راوړل .اوددوی په ژباړه بوخت یم اودغه دافغانستان د ۱۹او۲۰پیړیو تاریخ دی .

دداکترخالق رشید ددغو خبروڅخه دی پایلی او نتیجی ته ورسیدم چی ډاکټرکاکړاصلاً دتاریخی څیړونو اود تاریخ دمسلک سره علاقه نلری . دامانی دوری تاریخ دهیواد د نورو دورو په پرتله زمونږ د تاریخ یوه طلایی دوره شمیرل کیږی ،دی نه یوازی کومه علاقه ورسره نلری بلکی له بده مرغه له هغه سره دښمنی کوی . اوددغو دشمنیو بیلګی دداکټرزمانی دنقد په دریمه برخه کی دلوستلو وړدی.

سربیره پردی، داکترصاحب کاظم د ۱ /۳ /۲۰۱۵ د افغان جرمن پورتال په نظریاتو برخه کی لیکلی دی :«دتاریخ دڅیړونکی یو دمهمو دندو څخه یا دیوه تاریخ پوه اتکا پرمعتبرو سرچینواو اخذونو باندی ده، اود اصلی سرچینو تشخیص څنګه چه پورته وویل سول ،څیړونکی دسند داعتبار وتشخیص ته مکلف کوی . پدغو ورځوکی جناب داکترزمانی یوه مهمه موضوع دکتاب داصلی ماخذ په اړوند دپاچا امان الله حاکمیت ته نوی کتنه دبحث لپاره مطرح کړی ده .چی دکتاب محتواي ترسؤال لاندی ده .خوشحال یم چه نن ورځ څیړونکی هیوادوال په پراخ نظرسره په تاریخی مسایلو کی لاسوندونه اوشواهد وپلټي . چی په دغو اسنادوسره تاریخی واقعیتونه را برسیره کیږی .زه خپله دهغو کسانو څخه یم چی په کال ۲۰۰۵کی کله چی ما (زنان افغان زیرفشارعنعنه وتجدد) کتاب وکیښ، پدغه نظر چی هیڅ لاسوند په لاس کی نسته چی انګریزان دي دامانی دوری په سقوط کی لاس ولری ،نیوکه وکړه او دلیلونه می وړاندی کړل،اوله هغی ورځی وروسته دداکټر عبدالرحمن زمانی د زیار او زحمت مرهون یم .او د تاریخی معتبرواسنادو پربنسټ یی پرمحتواکتاب (بازنګری دوره امانی وتوطیه های انګلیس) وکیښ .اوهم یی دکاکړپرکتاب امانی دوری باندی مستنده مقاله ولیکله ،زه د داکټرزمانی په لیکنه اوتحلیلی ماهیت ویاړکوم .»

بل مهم ټکی چی پرهغه باندی لړڅه تم سم دادی چه کاکړدکتاب په نقد کی دهیواد دخپلواکی اخیستل دامان الله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زړورتوب او د مشروطه غوښتونکو دسرښندونواو قربانیو محصول نه ګني . کاکړلیکی :«افغانان دپاچا امان الله په مشرتوب سره د ۳۹کلنو وروسته دجنګ اوسولی له لاری بریالی سول او دانګریزانو څخه یی بشپړه خپلواکی ترلاسه کړه » (دداکترزمانی مقاله،دریمه برخه .)

دډاکټرکاکړ د۳۹کلنو دجنګ اوسولی څخه مقصد څه دی ؟ دامیرعبدالرحمن دواکمنی څخه (۱۸۸۰)بیا دامیرحبیب الله خان تروژلو(۱۹۱۹)، پوره ۳۹ کاله تیریږی .۳۹کلونه د دغو دو امیرانو په واکمنیوکی دهیواد دخپلواکی لپاره له انګریزانو سره کوم جنګ نه دی شوی ،څو امان الله خان دجنګ مشرتوب اولارښونه په غاړه واخلی ، مګرولی ښاغلی کاکړ دافغانستان د۳۹کلنو دجګړو په رهبری کی دامان الله خان نوم اخلي ؟دا پدی خاطر چی غواړی دمشروطیت غورځنګ چی ډیری قربانی یی ورکړی دی بابیزه او بی اهمیته ښکاره کړی او نوروته دغه پیام ورسوی چی دهیواد خپلواکی نه دمشروطیت دغورځنګ دکړنلارو او سرښندونو پایله ده او نه دامان الله خان میړنتوب اوزړورتوب دانګریزی ښکیلاک په مقابل کی .

سربیره پردغه داکټرکاکړ د مشروطیت دغورځنګ او بیا ددغه دویم نهضت د مخکښ اوفعال شهزاده امان الله خان په باره کی پخپل کتاب کی هیڅ ډول یادونه نده کړی . په داسی حال کی چی دهیواد خپلواکی بیله امان الله له نوم اخیستلو څخه اوبیا دامان الله له نوم اخیستلو پروخت بیله دمشروطیت دغورځنګ یادول اوبیله دمحمود طرزی دیادونی څخه چی د دغه غورځنګ په تینګښت اوبریالیتوب کی یی اغیزه ناکه ونډه درلوده څو په پای کی امان الله خان ډګرته راووت ،بابیزه اونیمګړی کار دی .

داکټرکاکړاصلاً نه غواړی ووایی چی : پاچا امان الله دمشروطه غوښتونکو د مخکنی طرحی سره سم دتاج پوشی په ورځ د۲۸فبروری ۱۹۱۹ دمخه تردی چی دشوربازارحضرت دسلطنت تاج دپاچا امان الله پرسرکښیږدي ، وی ویل : «**دغه تاج په هغه شرط پرسراېږدم چی دهیواد بشپړه خپلواکی ترلاسه کړم»** اووروسته یی دکابل ښاریانوته وویل : **« لومړی دنجیب ملت ټولوخلکو ته دغه زیری اواعلان کوم چی ما د افغانیه سلطنت تاج دخپلواکی او دافغانستان د بهرنی اوداخلی حاکمیت په نامه پرسرایښی دی .»**(دورهٔ امانی، داکتر اسدالله حبیب، ص۱۰)

بل ټکی ،داکټرکاکړسخت مخالفت د اروا ښاد پوهاند حبیبی سره دی ،دډاکټردمخالفت علت دهغه مرحوم سره دهغه ځایه څخه سرچینه اخلی چی ښاغلی ډاکټر د خپلی ټنبلی اولړکاری په وجه ،هیڅکله یی ونشوکړای دپوهاند حبیبی علمی ځای په علمی ټولنو په نړیواله اوملی سطح کی دهغه عالم په ژوند او ترمړینی وروسته ونیسی .اودغه دحقارت عقده د دخدای بخښلی پوهاند د عظمت په مقابل کی دکاکړروح ته آزار ورکوی .همدا رنګه په هره غونډه کی د اروا ښاد حبیبی چی د کاکړپه وزن یی کتابونه لیکلی دي، بد وایی او فکرکوی چی د مرحوم حبیبی په بد ویلوسره به دده مقام لوړشی ، پداسی حال کی چی داسی نده ، دفرهنګی کسانو دمحبوبیت میزان اوقدر دهغه کس په فرهنګی اوعلمی کارونو په مقدار پوری اړه لري .

پوهاند حبیبی د خپلو علمی او فرهنګی کارونو له کبله دسیمی په هیوادونوکی دیوه علمی شخصیت په توګه پیژندل سوی دی او دده د آثارو څخه دسیمی د هیوادونو خلکو ډیره ګټه اخیسته ده. پداسی حال کی چی کاکړپه افغانستان حتی دکابل دپوهنتون په علمی محیط کی دیوه علمی شخصیت په توګه ندی منل سوی .

لنډه دا چی د ډاکټرکاکړنقد اودکتاب محتوا اودمتن تحلیل دهیواد د پوه څیړونکی داکټرزمانی له خوا لکه د (بازنګری دوره امانی وتوطیه انګلیس) دکتاب پشان ، نه یوازی پخپل نوعیت کی بی ساری اثردی ،بلکه ددغی مقالی په دریمه برخه کی یی د داکټرکاکړ د تاریخ د متخصص لاس او پښی د شا له خوا ورتړلي دي . باید زیاته کړم چی ما ۵۵کاله دهیواد دتاریخ په لوستلو کی ، دافغانستان دعلومو اکادمی پوهانو او دپوهنتون داجتماعی علومو داستادانو په شمول، داسی نقد د اثر دمحتوا او دمتن تحلیل د مختلفو اسناد و اوشواهدو په بنسټ دکتاب دنقد په باره کی نه دی لوستلی ، که د داکټرکاکړپه وجود کی دغیرت یوه ذره موجود وي ، باید دخپل دتاریخ دداکتری دیپلوم څیری کړي اویا دا چی دخپلو ټولو ناوړو نیتونو سره د دغو تاریخی جعلیاتو ،تحریفاتو او(اوتی بوتی) څخه اعتراف وکړی او دافغانستان دخلکواو دکتاب د لوستونکو څخه بخښنه وغواری .

پهرحال خدای دی وکړی چی ډاکټر کاکړدانګریزانودخوښی لپاره دهیواد تاریخ نه وي تحریف کړی !

پای

د پاڼو شمیره: له ٤ تر ٤

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ